**د (الف) برخه: د زراعت عمومي ماشين آلات**
**څلورم لوست: د زراعتي ماشين آلاتو په شاوخوا کي د خوندي چاپيريال ساتنه.**
Maintaining a Safe Environment around Agricultural Machinery

**دزده کوونکو روزنيزي موخي:** ددي لوست د توضيحاتو په پايله کي به زده کوونکي لاندي موخي او هدفونه ترلاسه کړی:

١. خوندی توب (Safety) تشريح کړی او دا په ګوته کړی چی خوندی توب څرنګه عملی کيدای شی.
٢. خطره (Hazard) تشريح کړی او دا په ګوته کړی چی خطرونه چيرته موجود وی.
٣. ددی موضوع تشريح چی څرنګه کيدای شی کورنی توليدات او وسايل خطرلرونکی وی.
٤. د هغو سامان آلاتو په ګوته کول چی د شخصی خوندی (Safety) توب لپاره کارول کيږی.

**د لوست لپاره په پام کی نيول شوی وخت:** ٢ساعت
ددی درسی پلان لپاره کمپيوټري پاورپاينټ پروګرام هم چمتو شوی دی.

**د سرچينو سپارښتنه :** لاندي سرچيني ددی لوست د تدريس لپاره ګټوري دی.

Lee, Jasper S., et al. *AgriScience Discovery*. Upper Saddle River, New Jersey: Prentice Hall Interstate, 2003.
Illinois Farm Bureau, *Ag Mag 15*: “Safety Sleuths.” Illinois Ag in the Classroom Website—www.agintheclassroom.org
National Safety Council Website—www.nsc.org

**د سامان آلاتو، وسايلو او اړينو تجهيزاتو لست:**

سپينی پاڼي د ليکلو لپاره

پراجکټور

شفاف سلايډونه

پاور پاينټ سلايډونه

د لابراتوار د پاڼو کاپيګاني

د هغو حادثانو داستان او کيسي چی په خوندی توب يا حفاظت پوری اړه ولری.

ساتوونکی عينکی

د پخلو غوږی.

**اصطلاحات:** پدی لوست کی دغه لاندی اصطلاحات بيانيږی: ( دغه اصطلاحات په٢ شميره پاورپاينټ سلايډ کی هم ذکر شوي دي ):

- Caution احتياط
- Danger خطره
- Flammable اور اخستونکي
- Hazard احتملي خطره
- **Material safety data sheet (MSDS)** د موادو او توکيو دخوندي توب معلوماتي پاڼه
- **Personal Protective Equipment (PPE) د خوندي توب او مخ نيوني ځاني يا شخصي وسايل**

- Poison زهر یا زهر لرل
- Safety خوندي توب
- Warning خبرداري يا خبرتيا

**د لوست لپاره په زړه پورې میتود او کړنلاره:**
هغه کیسه چې د مصؤنیت او د خوندی توب په حادثی پورې تړاو ولری په لوړ آواز د زده کوونکو په وړاندی بیان کړی. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړی تر څو دغی کیسی ته ورته نوری کیسي له ټولیګیوالو سره په ګډه بیان کړی. هغوی ته دا بیان کړئ چې دارنګه حادثی هره ورځ رامنځ ته کیږی، نو څکه دوی ته دا ارزښت لری تر څو د خوندی توب او د هغو خطراتو په اړه چې ددوی په شا وخوا کی موجود دی ځان پوه کړی.

**د لوست د محتویاتو لنډیز او د لوست ستراتیژی**

**لومړی هدف:** خوندی توب (Safety) تشریح کړی او دا په ګوته کړی چې خوندی توب څرنګه عملی کیدای شی.
**د زده کوونکو له لوری وړاند وینه:** خوندی توب یا محافظت یعنی څه؟ څنګه کولای شی خوندی توب په عملی توګه پیاده کړی؟.
**(۳ شمیره پاورپاینټ سلایډ)**

I. **محافظت، خوندي توب او مصؤنيت** (Safety) له زيان، مرګ ژوبلي او خطر څخه د ځان او مال له ساتني څخه عبارت دي

الف) دیوه کار او کاري ځاي بشپړه خوندي توب امکان نلري، ولی د یو لړ اقداماتو او تدبیرونو په پیلي کولو سره کولاي شو تر څو یو کار یا کاري سیمه تر ډیره حده خوندي او محفوظه کړو. تر څو له احتمالي خطراتو څخه خوندي او په امن کي پاتي شو. د خوندي توب عمومي لارښوونو ته باید په هر وخت او ځاي کي پاملرنه وشي.
**(٤ او ٥ شمیري پاورپاینټ سلایډونه)**

1. تل او هر ځاي له خوندي توب او محافظت څخه خبرداره اوسي. همیشه خپل چاپیریال کي هغه کړني او فعالیتونه تر څارني لاندي ونیسئ کوم چي کیداي شي تاسو ته خطر او زیان پیدا کړي.
2. مخکي له دي چي اقدام وکړي فکر وکړه! څکه په بیړه توګه اقدام کول کیداي شي تاسو ته ستونځي راولاړی کړي او د کومي حادثي لامل ش وګرځی.
3. د خوندي توب ځانګړي تمرینات او کړني زده کړئ او د خوندی توب او مصؤنیت زده کړي همیشه تعقیب کړئ.
4. دا په ګوته کړي چي د خطر ګواښ چیرته دي، او په یاد ولري چیرته چي خطره وي له هغه ځاي څخه ځان وساتئ.
5. کله هم چي خوندي توب ته د احتمالي خطري په اړه پوه شوی، نو نور خلک هم لدغه حالت څخه خبر کړئ.
6. تل هدایات او لارښووني له نظره تیروه او هغه په بشپړه توګه په ډیر احتیاط سره تعقیب کړه!!
7. همیشه سامان آلات او وسایل په ښه خوندي حالت کي وساتئ.
8. همیشه له مناسبو محافظوي او ساتندویه وسایلو څخه کټه واخلئ!
9. بي مورده او غیر اړینه خطره (Risks) په ځان مه اخلئ!
10. د مصؤنیت او خوندي توب ټولي لارښووني او مقرري په پام کي ونیسئ!

**(٦ شميره پاورپاينټ سلايډ)**

ب) ددي لپاره چي خوندي توب عملي او پياده شي او له خطری سره مقابله وشی، نو اړينه خبره ده چي بايد هميشه چمتوالي ولرو او بايد مناسب وسايل موجود وي.

**(٧شميره پاورپاينټ سلايډ)**

١. **روزنه او تعليم:** د خوندی توب لپاره ډير ارزښتناکه قدم او پړاو شميرل کيږي. پدي باندي ځان پوهول چي مونږ په څه شي پسي ګرځو له خطراتو څخه په خوندي توب کي ډيره مرسته کوي. مخکي له دي چي له وسايلو څخه استفاده وشي يا يو فعاليت ترسره شي که چيري د خوندي توب روزنه (Training) واخستل شي، دغه عمل به له مونږ سره په مصؤنانه او خوندی اجراآتو کي ممده او مرستندويه تمام شی.

**(٨ شميره پاورپاينټ سلايډ)**

٢. **Signs د خطر علامي او نښي:** له بيلابيلو نښو او علامو څخه ګټه اخستل کيداي شي له مونږ سره د خوندي توب او مصؤنيت په برخه کي مرسته وکړی.تل علامي او نښي په دقت سره ولولئ او هغوي ته غاړه کيږدئ! پدي باندي ښه ځان پوه کړئ ! چي دغه بيلابيلي علامي او نښي څه معني لري او کومو خطراتو ته اشاره کوي.

**(٩ او ١٠ شميره پاورپاينټ سلايډونه)**

٣. **(MSDS) د موادو او توکيو دخوندي توب معلوماتي پاڼه:** ټول کيمياوي توکي او مواد له ځان سره د توکيو د خوندي توب معلوماتي پاڼه (MSDS) لري دا هغه پاڼه ده چي د اړونده کيمياوي توکيو د مصؤني او خوندي کارونی په اړه معلومات چمتو کوي.د توکيو د خوندي توب معلوماتي پاڼه (MSDS) نه يواځي دا چي د زراعتي کيمياوي توکيو او موادو سره بايد موجوده وي بايد له نورو توکيو لکه د ښوونځيو د لابراتوارنو په توکيو او موادو کي هم بايد موجوده وي.کوم معلومات چي په MSDS کی درج دي له مونږ سره مرسته کوي تر څو کيمياوي توکي او مواد په مناسبه او ښه توګه وکاروو او ځان خوندي وساتو.

**(١١ شميره پاورپاينټ سلايډ)**

٤. **(Proper storage) مناسبه او ښه زيرمه:** کيمياوي توکي او داسي نور خطرناکه محلولونه بايد په مناسبه او ښه توګه زيرمه شي.د زيان رسوونکو موادو د خوندي توب لپاره بايد مصؤني الماري تر لاسه شي، او کوم خلک چي دغو الماريو ته نژدي کار وبار کوي بايد مصؤنيت يي خوندي وي.

**(١٢ شميره پاورپاينټ سلايډ)**

٥. **(Emergency response) د بيړني او اضطراري غبرګون سيسټم:**ددي سره سره چي مخکني مناسب محافظوي تدبيرونه نيول شوي دي، خو بيا هم حادثي را مينځ ته کيږي.د غبرګون وخت کيداي شي د حادثي د ماهيت پر اساس توپير وکړي، د مثال په توګه يوه وړه حادثه او يوه لويه مرګ ژوبله. پدي ځان پوه کړئ! چي څرنګه بايد غبرګون او عکس العمل وښودل شي.

**خبری وکړئ. د 2-4 :TM ځخه د زده کوونکو لخوا دMSDS د بیلګو په اړه کار واخلئ. له زده کوونکو ځخه پوښتنه وکړی چی کله یی هم MSDS لیدلی دی. او همدارنګه له هغوی ځخه پوښتنه وکړی چی نوری کومی د خوندی توب نښی او علامی یی لیدلی دی د هغوی نومونه دی واخلی.**
.

**دوهم هدف:** خطره (Hazard) تشریح کړی او دا په ګوته کړی چی خطرونه چیرته موجود وی.

**د زده کوونکو له لوری وړاند وینه:** خطری څه شی دی او چیرته موجودی وی؟

**(۱۳ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

II. **(Hazard) له خطر ځخه عبارت دي.** مونږ همیشه خطرات په سترګو وینو خو تل ځان نشو ورڅخه خوندي کولای، ددي سره سره چي زمونږ په چاپیریال کي خطرات شته، مونږ کولاي شو ددغو خطراتو د کمښت په موخه یو لړ ګامونه پورته کړو.

**(۱٤ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

الف) **په کرهنه او زراعت کي ډیر داسي ځایونه شته چي په هغوي کي خطري موجودی دی. دغه خطري (Hazards) کیداي شي په پټي، کرهنیزه کاروبار او د کور په مینځ او شاوخوا کي موجودی وي. نباتات او ځاروي کیداي شي هر وخت خطر وي.د احتمالي خطرناکه ځایونو او سیمو پیژندنه له مونږ سره مرسته کوي تر څو ځانونه له دغسي ځایونو او مواردو ځخه وژغورو.**

**(۱٥ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۱. **د لاس وسایل،** لکه پلاس، انبور، څټک، پیچ کښ یا پیچ تاوو باید په ښه کاري شرایطو باندي سمبال وي او هر یو یي د خپلي موخي او اړونده کار لپاره استعمال شي.

**(۱٦شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۲. **.بریښنایي وسایل( Power tools)** لکه اره، برمه او څرخ په ځانګړي توګه خطرناکه وي، له دغه ډول وسایلو ځخه باید په ښه او مناسبه توګه او د جوړونکي د لارښوونو پر اساس کار واخستل شی ټول محافظوي وسایل ( All safety devices) باید پخپل ځای کی موجود او فعاله وي.

**(۱۷شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۳. انجنونه او د سونګ مواد کیداي شي خطرناکه وي. له سوځیدني ځخه ځان ساتنه ډیري پاملرني ته اړتیا لري تر څو ګرم او سوځنده پرزي په احتیاط سره اوچته شي. کله چي په انجن او د سونګ له موادو سره کار کوي پدي صورت کي **ventilation** یا د تهٔبوخي لري کونی سیستم ډیره اړینه ده. د سونګ مواد باید په مناسبو لوښو او خوندي ځایونو کي زیرمه شي.

**(۱۸ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

٤. کله چي د **بریښنا** سره کار کیږي باید ډیره پاملرنه وشي تر څو له خطراتو ځخه ځان ساتنه وشي. ډاډ تر لاسه کړئ چي ټول بریښنایي وسایل او آلات په ښه او مناسبه توګه کار کوي، او په ښه کاری حالت کي قرار لري.

**(۱۹ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

٥. **تراکتورنه** او داسي نور سامان آلات د طاقت او توان پر اساس فعالیت کوي. پدي ځان پوهول چي دغه وسایل څرنګه کار کوي او څرنګه باید په کار واچول شي، په کومه چټکتیا او سرعت باید له دغو وسایلو ځخه کار واخستل شي دا هغه موارد دي چي د خطراتو په کمیدو کي مرسته کوي. ډاډ تر لاسه کړئ چي ملاوندني (کمربند) تړلي دي او د خوندي توب ټول وسایل پخپل ځاي کی موجود او فعاله دي.

**(۲۰ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۶. ددي لپاره چي د خطر د را مينځ ته کيدو مخنيوي وشي باید **کیمیاوي توکي** او مواد په ډیره پاملرنه سره لاس په لاس شي. تل باید دا معلومه کړي چي دغه کیمیاوي توکي دڅه لپاره کارول کیږي او بیا يي د لارښووني سره سم وکاروئ. که چیري د کیمیاوي توکیو په اړه کومه اندیښنه او شک موجود وي نو ژر تر ژره معلوماتي پاڼه (MSDS) مطالعه کړئ د پاڼي دلارښوونو سره سم محافظوي لارښووني تعقیب کړئ. هغه ځاي سره چي کیمیاوي توکي په تماس کي شوي دي هغه ښه پاک کړئ.

**(۲۱ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۷. **د اور او تودوخي** سره نژدي کار کونه د ډيري پاملرني غوښتنه کوي. په ځانګړي توګه تودوخه چي په سترګو نه لیدل کیږي ډیر خطرناکه وي.

**(۲۲ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۸. کله چي **څارویو** ته نژدي کار کوي له ډيري پاملرني څخه ګټه واخلي، څاروي کیداي شي انسانانو په ځانګړي توګه ماشومانو ته د ضرر او زیان رسولو لامل شي. د څارویو له خطر څخه ډیره ښه د ژوغورني لاره دا ده چي ځان پوه کړو چي د څاروي سره څه ډول سلوک وکړو، او کله چي له دوي څخه کار اخستل کیږي یا دوي ته نژدي کار کوو باید جدي پاملرنه وکړو.

**(۲۳ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

۹. **نباتات** کیداي شي خطرناکه وي. ځيني نباتات زهرجن وي نو باید پدي ځان پوه کړئ چي کوم ډول نباتات ستاسو په شاوخوا کي موجود دي او پدي هم ځان پوه کړئ چي کوم ډول نباتاتو سره باید ډيره پاملرنه وشي.

**وروسته د خطر (hazard) له تشریح او مخکی ددی څخه چی دا تشریح شی چی خطرات په کوم ځای کی پیدا کیږی له زده کوونکو سره د ۱-۴ کاری پاڼی په اړه خبری وکړئ زده کوونکو ته کافی وخت او فرصت وکړی تر څو پدی اړه فکر وکړی چی خطرات په کوم ځای کی پیدا کیږی. له ۴-۳ درسی توکیو څخه د هغو ځایونو د په ګوتو کولو لپاره کار واخلی چیرته چی کیدای شی خطرات موجود وی. وروسته له بیا کتنی څخه له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ تر څو خپل ځوابونه په کاری پاڼه کی ورعلاوه کړی.**

**دریم هدف:** ددی موضوع تشریح چی څرنګه کیدای شی کورنی تولیدات او وسایل خطرلرونکی وی.
**د زده کوونکو له لوری وړاند وینه:** کورني توليدات او محصولات څرنګه کيداي شي چي خطرناکه

**(۲٤ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

III. له هغو وسایلو او تولیداتو څخه **چي په کور او یا د کور په شاوخوا کي** ورڅخه ګټه اخلو کیداي شي د هغو وسایلو او محصولاتو په اندازه خطرناکه وي چي په مزرعو او لابراتوارونو کي ورڅخه کار اخستل کیږي.ډیر داسي کورني تولیدات شته که چیري له هغوي څخه په سمه توګه استفاده ونشي، یا يي په ښنه نکړو او یا يي هم د لارښوونو پر اساس ونه کاروو، نو کیداي شي سترګو، پوست (څرمن) ته زیان ورسوي او آن دا چي د ناروغي لامل وګرځي. دغو تولیدات ته په عمومي توګه زهرونه وایي.

**(۲۵ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

الف) ***(poison)* یا زهر** هغه ماده ده چي حتي کيداي شي په کمه اندازه سره هم د ناورغي یا د مرګ لامل وګرځي.د ډیري (اکثریتو) زهر لرونکي مايعاتو پر لیبلونو باندي داسي نښي او سمبولونه شته چي د

هغوي د خطرناکتوب څرګندونه کوي. نو اړینه خبره ده چي باید دغه ځانګړي نښي او سمبولونه پیدا کړو او د هغوي په معني ځان پوه  او په نظر کي يي ونيسو.

**(۲٦ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

- ❖ ***(Caution)*** احتیاط - ددی  څرګندونه  کوی چی له وسایلو څخه د استفادی په حالت کی باید له پاملرنی او احتیاط څخه د لارښووني پر اساس  کار واخستل شی.
- ❖ *(Warning)* خبرداری– مونږ ته له مخکی له دي چي خطره را مینځ ته شي  اطلاع راکوی، که چیری اړونده لارښوونی په نظر کی ونه نیول شی وسیله یا تولید د خطر  پیدا کیدولامل ګرځی.
- ❖ ***(Danger)*** **خطر** - ددی معنی دا ده چی د مرګ ژوبلی احتمال او پوټانسیل موجود دی.
- ❖ ***(Flammable)*** **د اشتعال منونکی**- کله چی دا نښه او علامه په کوم تولید باندی لیکلی وی نو دا معنی لری چی تولید په آسانی اور اخستلای شی.

**(۲۷ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

ب)       ټول زهرونه باید په ځانګړو ځایونو کی له ماشومانو او کورنیو ځارویو څخه په خوندی توګه وساتل شی.

ت)       د هرهغه تولید چي د لیبل نښه له مینځه تللی وی، باید په ډیره سمه توګه لری  او خوندي شی، دغسی تولیدات ځکه خطرناکه دی چی هیڅوک د هغوی په داخلی محتویاتو باندی نه پوهیږی.

ددغه هدف او موخي د لا ښه درک او فهم لپاره له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړي تر څو داسي  محافظوي  عینکي په سترګو کړي چي د پخولو په غوړیو باندي ککړي وي  او د ټولګي په مخکي ودریږي. بیا له هغوي څخه غوښتنه وکړي تر څو ټولګیوالو ته ووايي چي څه شي ويني. له همدغه ځايه په استفادي  سره هغوي ته دا بیان کړي چي کورني وسایل د سترګو لپاره کله دایمي او کله د لنډ مهاله ستونځو لامل کیداي شي. په ٤-٤ درسي توکیو کي ځیني هغه عادي وسایل چي د احتمالي خطر د خبرداري لپاره کارول کیږي موجود دي له هغوي څخه استفاده وکړئ. له ۲-٤ پاني څخه د زده کوونکو د معلومات لپاره کار واخلي تر څو هغوي تولیدات په ګوته کړي.

**ځلورم هدف:** د هغو سامان آلاتو په ګوته کول چي د شخصی خوندی (Safety) توب لپاره کارول کیږی.

**د زده کوونکو له لوری وړاند وینه:**  ځیني د خوندي توب عادي وسایل او سامان آلات چي په شخصي توګه کارول کیداي شي کوم دي؟

**(۲۸ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

IV. که چیری د خطری احتمال موجود وی، نو وسایل په مناسبه توګه استعمال کړی.محافظوی وسایل همیشه پټ او پوښلی وساتی او که چی د خوندی توب سامان آلات کاروی ځان پټ کړئ. ځانی یا شخصی محافظوی سامان آلات ( PPE =Personal Protective Equipment) له هغو وسایلو څخه عبارت دی چی خلک له ځینو ژوبلو او زیانونو څخه خوندی ساتی.

**(۲۹ شمیره پاورپاینټ سلاید)**

الف)     مناسب شخصی سامان آلات (PPE) هلته غوره کیدای شی چی د فعالیت ډول او په فعالیت کی د خطراتو بڼه  او د هغوی احتمال څرګند وی.دغه شخصی سامان آلات د بیلابیلو موخو لپاره موجود دی د بیلګی په توګه د غوږونو د خوندی توب، د پوست (څرمن) او د ساکښنی د سیسټم  د محافظت او خوندی توب لپاره .

**(۳۰ او ۳۱  شمیره پاورپاینټ سلایدونه)**

ب)       ځیني هغه شخصي (ځاني) د خوندي توب  عادي ډوله وسایل او سامان آلات په لاندي توګه دي:

1. Rubber boots and steel-toed shoes ربړي بوټان او هغه بوټان چي اوسپنيزه څوکي لري.
2. Earmuffs (hearing muffs) د غوږ ماغوګان
3. Particle mask د بخرکو او ذراتو نقاب
4. Face shield د مخ سپر
5. Safety glasses د خوندي توب شيشه
6. Goggles هغه عينکي چي د سترګو د خوندي توب لپاره کارول کيږي.
7. Earplugs (corded or uncorded) پړئ لرونکي او بي پړيه د غوږ پلګونه
8. Apron پيش بند هغه ټوکر چي کارکوونکي يي د کار په وخت کي په ټټر بندي ښکارته لوري ته ځوړوي.
9. Gloves د لاس ماغوګان
10. Eyewash bottle د سترګو پريمنځلو د مايع بوتل.

**د (PPE) یا د خوندي توب د شخصي وسايلو د تشريح او توضيح لپاره له ٤-٥ درسي توکيو څخه استفاده وکړئ. له WS:4-3 کاري پاڼي څخه پدي اړه کار واخلي چي زده کوونکو د (PPE) په اړه خپل معلومات پکي په ګوته او تشخيص کړي. WS KEY: 4-3 کليدي پاڼه د کاري پاڼي لپاره صحيح ځوابونه په ګوته کوي. ځيني محفاظوي سامان آلات له ځان سره ټولګي ته راوړي او له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړي چي هغه په عملي توګه وکاروي د بيلګي په توګه دخوندي توب عينکي، لاس ماغو او داسي نور، دا هم زده کوونکو ته تشريح کړي چي کيمياوي توکي بايد يواځي مشران وکاروي نه ماشومان.**

**بیاکتنه او لنډیز:** ددي لپاره چي دلوست لنډیز او بیا کتنه ترسره شي، د زده کوونکو له روزنیزو موخو او هدفونو څخه استفاده وکړئ. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ تر څو په هره موخه پوري اړوند محتویات تشریح او څرګند کړي. د زده کوونکو ځوابوه او څرګندوني به دا په ګوته کړي چي کوم هدف او موخه د بیا کتني لپاره اړتیا لري یا هم له بل تدریسي میتود څخه استفاده وشي. له خپلو مشاهداتو او کتنو څخه د هغو ځایونو او مواردو په نښه کولو کي استفاده وکړئ کوم چي د زده کوونکو د مهارتونو د سمون او ښه والي اړتیا ورته برېښي. ځیني پوښتني په (۳۱ شمیره پاورپاینټ سلایډ کي هم شته چي پدي اړه مرسته کولاي شي).

**عملي او اجرا کول:** کله چي زده کوونکي WS: 4-1، WS: 4-2 او WS:4-3 کاري پاڼي بشپړه کوي کولاي شي له هغو معلوماتو چي دوي ددي لوست په پایله کي لاس ته راوړي دي ګټه واخلي. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړي تر څو WS:4-4 کاري پاڼي په بشپړيدو سره له هغو معلوماتو چي د خطر د ارزوني څخه يي زده کړي هم ګټه واخلي.

**ارزونه:** ارزونه باید د زده کوونکو د هغه درک او فهم پر اساس ترسره شی چی زده کوونکو ددغه لوست له روزنیزو موخو څخه ترلاسه کړی دی. د لابراتوار فعالیتونه مخکی له دی چی تحریری ازموینه واخستل شی ترسره شری.

**بیلګیزه ازموینی ته ځوابونه**

**لومړی برخه:برابرول (مطابقت ورکول)**

1. C
2. A
3. D
4. B
5. E

**خالی ځایونه په مناسبو کلمو ډکه کړئ:**

١. خطر
٢. اشتعال مننه
٣. سلوک
٤. مخاطره

**لنډ ځواب**

کیداي شي ځوابوه یو له بل سره توپیر ولري. زده کوونکي دوه داسي خطري باید په ګوتو کړي چي ددوي د کورنو په شاوخوا کي موجود وي او دا هم باید لسټ کړي چي څرنګه کولاي شي دغه خطرونه له مینځه یوسي.

**بیلګیزه ازموینه**

**محافظت یا خوندي توب**

**نوم:** ____________________

**مطابقت ورکول:** لاندی اصطلاح له صحیح ځواب سره برابره کړئ. ټکی یا حرف د تعریف پر اساس باندی ولیکئ:

الف) احتیاط
ب) محافظت
ت) خبرداري
ث) شخصي شخصي محافظوي سامان آلات.
ج) زهر

______ ۱. مونږ ته له مخکی له دي چي خطره را مینځ ته شي اطلاع راکوی، که چیری اړونده لاربشوونی په نظر کی ونه نیول شی وسیله یا تولید د خطر پیدا کیدو لامل ګرځی

______ ۲. - ددی ځرګندونه کوی چی له وسایلو څخه د استفادی په حالت کی باید له پاملرنی او احتیاط څخه د لاربشوونی پر اساس کار واخستل شی.

______ ۳. ځانی یا شخصی محافظوی سامان آلات ( PPE =Personal Protective Equipment) له هغو وسایلو څخه عبارت دی چی خلک له ځینو ژوبلو او زیانونو څخه خوندی ساتی.

______ ٤. له زیان، مرګ ژوبلي او خطر څخه د ځان او مال له ساتني څخه عبارت دي

______ ٥. هغه ماده ده چي حتي کیداي شي په کمه اندازه سره هم د ناورغي یا د مرګ لامل وګرځي.

**لاندي خالي ځایونه په مناسبو جملو باندي ډکي کړي.**

۱. مونږ همیشه ---------------- په سترګو وینو خو تل ځان نشو ورڅخه خوندي کولاي

۲. تولیدی که می تواند به آسانی اتش ګیرد بنام ________ یاد می شود.

۳. د ځارویو له خطر څخه ډیره ښه د ژوغورني لاره دا ده چي ځان پوه کړو چي د ځاروي سره څه ډول ---------- وکړو، او کله چي له دوي څخه کار اخستل کیږي یا دوي ته نژدي کار کوو باید جدي پاملرنه وکړو.

٤. ________ له خطر څخه عبارت دي

**لنډ ځواب:** لاندی پوښتنو ته ځواب برابر کړئ.
دوه داسي خطري تشخیص کړي چي ستاسو د کورنو په شاوخوا کي موجود وي او دا هم لسټ کړي چي څرنګه کولاي شي دغه خطرونه له مینځه یوسي.

TM: 4-1

## د خوندي توب او محافظت عمومي لاربښووني

1. تل او هر ځاي له خوندي توب او محافظت څخه خبرداره اوسي.
2. مخکي له دي چي اقدام وکړي فکر وکړه! ځکه په بيړه توګه اقدام کول کيداي شي تاسو ته ستونځي راولاړی کړي
3. د خوندي توب ځانګړي تمرينات او کړني زده کړئ او د خوندی توب او مصؤنيت زده کړي هميشه تعقيب کړئ.
4. دا په ګوته کړي چي د خطر ګواښ چيرته دي، او چيرته چي خطره وي له هغه ځاي څخه ځان وساتئ.
5. کله هم چي خوندي توب ته د احتمالي خطري په اړه پوه شوی، نو نور خلک هم لدغه حالت څخه خبر کړئ.
6. تل هدايات او لاربښووني له نظره تيروه او هغه په بشپړه توګه په ډير احتياط سره تعقيب کړه!!
7. هميشه سامان آلات او وسايل په ښه خوندي حالت کي وساتئ.
8. هميشه له مناسبو محافظوي او ساتندويه وسايلو څخه کټه واخلئ!
9. بي مورده او غير اړينه خطره (Risks) په ځان مه اخلئ!
10. د مصؤنيت او خوندي توب ټولي لاربښووني او مقرري په پام کي ونيسئ!

TM: 4-2

**د موادو د خوندي توب د معلوماتو پانه**
(MSDS)



TM: 4-3

## د احتمالي خطرونو ساحي اوځايونه

- لاسي وسايل
- بريښنايي وسايل
- انجنونه او د سونګ مواد
- بريښنا
- ټراکټور او داسي نور سامان آلات
- کيمياوي توکي
- اور او تودوخه
- څاروي
- نباتات

**د احتمالي خطرونو په هکله جملي**

**پاملرنه!** له سترګو سره يي مه په تماس کي کوي! کيمياوي فعاله عامل لري. که چيري له سترګو سره په تماس شو، نو ژر ترژره او په بشپړه توګه يي په اوبو سره پريمنځه! که چيري په سترګو کي خاربښت او حساسيت پاتي وي نو د رملني غمه يي وکړه!

**خطر:** که چيري غړپ او له ستوني تير شي نو تباه کوونکي او زيان رسوونکي ده!
**د ماشومانو له لاس رسئ څخه يي لري وساتئ!**

**خبردار! :**
د سترګو لپاره حساسه او خاربښت لرونکي. سترګو ته يي مه نژدي کوي!
که مو څرمن حساسيت لري او يي د ډير اوږد وخت لپاره کاروي نو لاس ماغوان په لاس کړه!

**خطره په آساني سره اشتعال کوي** د احتراق سره نژدي دوا پاشي مه کوه!
بخار په آساني سره تراکم کولاي شي او مشتعله کيږي.




TM: 4-5 د خوندي توب شخصي عادي وسایل

WS: 4-1

**د خطرونو نومونه واخلئ**

**لاربښونه:** لاندي برخي زراعتي دي چي خطرونه لري. څومره چي کولاي شي د هري برخي لپاره احتمالي خطرونه په ګوتو او تشخيص کړئ:

1. لاسي وسایل

2. بریښنایي وسایل

3. انجنونه او د سونګ مواد

4. بریښنا

5. ټراکټور او داسي نور سامان آلات

6. کیمیاوي توکي

7. اور او تودوخه

8. څاروي

9. نباتات

.

WS: 4-2

## د لیبل یا نښې لوستل

**لارښووني:** د کورنیو سامان آلاتو یو بکس به تاسو ته درکړل شي. د بکس په مینځ کي د هر سامان لیبل او نښه ولولئ. له معلوماتو څخه په ګټه اخستنې سره لاندې لست بشپړه کړئ:

**لوښي ۱**

۱. د تولید یا جنس نوم:

۲. د خوندي توب کلمه:

۳. د خوندي توب لارښووني:

**لوښي ۲**

۱. د تولید یا جنس نوم:

۲. د خوندي توب کلمه:

۳. د خوندي توب لارښووني:

**لوښي ۳**

۱. د تولید یا جنس نوم:

۲. د خوندي توب کلمه:

۳. د خوندي توب لارښووني:

**لوښي ٤**

۱. د تولید یا جنس نوم:

۲. د خوندي توب کلمه:

۳. د خوندي توب لارښووني

**لوښي ۵**

۱. د تولید یا جنس نوم:

۲. د خوندي توب کلمه:

۳. د خوندي توب لارښووني

**لوښني ٦**

١. د تولید یا جنس نوم:

٢. د خوندي توب کلمه:

٣. د خوندي توب لارښووني

**لوښني ٧**

١. د تولید یا جنس نوم:

٢. د خوندي توب کلمه:

٣. د خوندي توب لارښووني

د کاري پاڼي "کلید" WS KEY: 4-2

**د نښو یا لیبلو د لوستلو لاره**

**د ښوونکي لپاره لارښوونه:**

١. زده کوونکي په څلورو یا پنځو کوچینیو ګروپونو باندي وویشئ.

٢. هر ګروپ ته یوه داسي بکسه ورکړئ چي د کور اوه خالي لوښني په کي وي.

٣. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړي چي د بکس د جنسونو د لست د بشپړه کولو لپاره د کاري پاڼي پوښتنو ته په ځواب ورکولو سره پیل وکړي. له WS:4-2کاري پاڼي څخه کار واخلئ.

٤. دغه کړنه زده کوونکو فرصت برابروي تر څو عادي وسایل ښه درک کړي او د هغوي بیلابیل لیبلونه او نښي ولولي. په یاد ولري چي ټول وسایل خطرناکه نه وي.

WS: 4-3

## د شخصي خوندي توب عادي وسایل

**لاربنوونه :** لاندي دخوندي توب شخصي عادي وسایل په ګوته کړي او د هغوي نومونه په هغو کربنو باندي ولیکئ چي د هري وسیلي په څنګ کي موجودي دي:

1. ____________



2. ____________



3. ____________



4. ____________



5. ____________



6. ____________



7. ____________



8. ____________



9. ____________



10. ____________



WS KEY: 4-3

## د شخصي خوندي توب عادي سایل

1. **Rubber boots and steel-toed shoes** ربړي بوټان او هغه بوټان چي اوسپنيزه څوکي لري.
2. **Earmuffs (hearing muffs)** د غوږ ماغوګان
3. **Particle mask** د بخرکو او ذراتو نقاب
4. **Face shield** د مخ سپر
5. **Safety glasses** د خوندي توب شيشه
6. **Goggles** هغه عينکي چي د سترګو د خوندي توب لپاره کارول کيږي.
7. **Earplugs (corded or uncorded)** پړئ لرونکي او بي پړيه د غوږ پلګونه
8. **Apron** پيش بند هغه ټوکر چي کارکوونکي يي د کار په وخت کي په ټټر بندي ښکارته لوري ته ځوړوي.
9. **Gloves** د لاس ماغوګان
10. **Eyewash bottle** د سترګو پريمنځلو د مايع بوتل.

WS: 4-4

**د کورنو د خوندي توب څارنه**

د خپل کور سیمه په ګوته کړي او په لاندي جدول کي هغه رسم کړئ.

هغه خطرونه چي ستاسو د کورنو په شاوخوا کي موجود دي هغه لاندي وليکئ.

۱.

۲.

۳.

٤.

٥.

٦.

۷.

۸.

۹.

۱۰.

څرنگه کولاي شي خپل کورنه خوندي وساتي؟